# د افغانستان په شمال کې د کډوالو ادغامول

د المان حکومت د افغانستان د کډوالو او راستنیدوکو د وزارت سره د هیواد په کوربه ټولنو کې د کورنیو بیځایه شویو او راستنیدونکو د ادغام د کار د آسانه کولو په موخه د استوګنې او لومړنی بیخبنا د برابرولو په لاره کې مرسته کوي.

## وضعیت

څو لسیزه جګړه او طبیعي ناورینونه چې زمونږ د خلکو معیشت یې له منځه وړی دئ، د افغانستان د خلکو لویې برخې یې دیته اړ کړیدي چې خپلې ټولنې پریږدي. د ملګرو ملتونو د سازمان د اټکلونو پر بنا، همدا اوس شاوخوا دوه میلیونه افغانان د هیواد په دننه کې د استوګنې د لټولو په حال کې دي. دوامداره وچکالي یوازې په ۲۰۱۸ کال کې نیم میلیون نور کورني بیځایه شوي کسان په نوموړي ډلې باندې زیات کړی دي. له بلې خوا، زیات شمیر افغانان د ګاونډیو هیوادونو څخه راستانه شوي دي چې یوازې د ایران څخه شاوخوا ۷۷۰۰۰۰ تنه خپل هیواد ته بیرته راغلي دي.

د څمکې تیټه بیه هم راستنیدونکي او هم کورني بیځایه شوي اغلباً دیته رابللي دي چې د لویو ښارونو په چاپیریال کې میشته شي چې دا کار د نفوس د چټکې ودې او په پایله کې د ټولنیزو او اقتصادي فشارونو لامل ګرځي. د استوګنې د ځایونو او د خوراک او څښاک د حیاتي منابعو نشتوالی لیدل کیږي او له بلې خوا د کار بازار او عامه بیخبنا د نفوس د زیاتي ودې تر جدي اغیزې لاندې راځي. دا وضعه اغلباً له یوې خوا د کوربه ټولنو او بلې خوا د کورنیو بیځایه شویو او راستنیدونکو تر منځ تاوتریخوالي او شخړې منځته راوړي.

## د پروګرام موخه

د پروګرام موخه داده چې په زیانمن شویو سیمو کې د تاوتریخوالو کچه را ټیټه شي او د شخړو څخه مخنیوی وشي. دې موخې د رسیدو لپاره، د کورنیو بیځایه شویو او راستنیدونکو د پاره استوګنه برابره شوې او لومړنی بیخبنا منځته راځي چې دهغه څخه کوربه ټولنې هم ګټه پورته کوي. په عین حال کې، د افغانستان د کډوالو او راستیندونکو د وزارت مقامات چې د راستنیدونکو او کورنیو بیځایه شویو د ادغام

## په یو نظر کې



په بلخ، جوزجان او سمنګان، ولایتونو کې فعالیت

**پروګرام:** د افغانستان په شمال کې د کډوالو ادغامول (IDP)

**دستور ورکوونکي اداره:** د المان بهرنیو چارو فدرال وزارت

**شریک:** د افغانستان د کډوالو او راستنیدونکو وزارت

**پلې کونکي اداره:** Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH

**Provinces:** بلخ

,

**Provinces:** جوزجان

,

**Provinces:** سمنګان

**د پروګرام موخه:** خلک په ډیره راحتی سره افغانی مقامات د هیواد د شمال په ټاکلیو سیمو کې د کورنیو بیځایه شویو او راستنیدونکو د اغیزمن ادغام د تمثیل کوونکو په توګه وینې.

**Overall term:** ۲۰۱۷ کال د جنوری د میاشتې څخه د ۲۰۲۰ کال د مې تر میاشتې پورې

## اضافي معلومات

- یو واقعي کور
https://www.ez-afghanista)

همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

دنده په غاړه لري، باید پیاوړي شي. نیت دادئ چي نوموړي مقامات د افغانستان د خلکو له خوا اغیزمنو تمثیل کوونکو په توګه ولیدل شي او په زیانمن شویو سیمو کې ثبات منځته راوړي.

## اقدامونه او پایلې

د کډوالو او راستنیدونکو د وزارت د اړونده مقامونو یوه دنده داده چې د کوربه ټولنو، کورنیو بېځایه شویو او راستنیدونکو سره اړینې مرستې راوپيژني. د المان حکومت د نوموړي وزارت د کارکوونکو لپاره روزنیز کورسونه تمویلوي چې د هغو موخه په تیره بیا د اغیزمنتیا د کچې لوړول او د شمیرو او معلوماتو مسلکي راټولول دي. دا کار نوموړي مقامونو ته توان ورکوي چې د کورنیو په اړه مسلکي سروې ګاني ترسره کړي، او د ښکیلو لوریو سره د خبرو اترو ډلې جوړې کړي. د سیمې د خلکو سره د ډیالوګ په ترڅ کې د وضعې د سمونتیا په موخه نظریې او وړاندیزونه تبادله کیږي چې په پایله کې ملموس اقدامونه د کډوالو او کوربه ټولنو د اړتیاوو د رفع کولو په موخه ترسره کیږي او په دې توګه د شخړې د پوټنسیال کچه په اوږدمهال کې راټیټوي. افغاني مقامونه همدارنګه کولای شي په خپلواکه توګه د خپل کار د بریالیو اسلوبونو بیلګې په نورو سیمو کې ترویج کړي.

د دې چلند حاصل همدا اوس وینو. د بیلګې په توګه، تر اوسه پورې د ۵۵۵ اړو کورنیو لپاره د استوګن ځایونه ودان شوي دي تر څو په کوربه ټولنو کې د هغو ادغام آسانه شي. د ۶۰۰ نورو کورنیو لپاره ودانیز مواد برابر شوي دي چې تر څو د خپلو کورونو څخه ځارنه او ساتنه وکړي. د بيخبنا د سمونتیا په هکله اقدامونه هم ټاکل شوي او پلی شوي دي چې د هغو څخه په کوربه ټولنو کې هم محرومې کورنۍ او هم بیځایه شوي او راستنیدونکي ګټه پورته کوي. په نوموړو اقدامونو کې په تیره بیا د څښاک د اوبو د برابرولو سمونتیا، بیخبنا او حفظ الصحي تسهیلات شامل دي. د ځائیزو ټولنو د مرکزونو او ښوونځیو ودانول او نوي کول د نورو اقدامونو په لړ کې ګڼل کیږي. د ۲۰۱۷ کال راهیسې د بیلګې په توګه په زیان شویو ټولنو کې د څښاک د اوبو نه سیستمونه احداث او یا ترمیم شوي دي او کابو څلور کیلومتره نوي سړکونه ودان شوي دي. په ټولیزه ډول، دا کار تر اوسه پورې د شاوخوا ۴۰,۰۰۰ تنو خلکو د ژوند شرایطو ته سمون ورکړی دئ.

n.de/ps/story/%DB%8C%D9%88-%D9%88%D8%A7%D9%82%D8%B9%D9%8A-(%DA%A9%D9%88%D8%B1

- Integration of Internally Displaced People in Afghanistan (IDPP) (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/FS_2019_IDPP_PA.pdf)

## اړیکه

ګیورګ فرتزنوینګر GIZ GmbH په افغانستان کې د ټولني پولیسي مشر(CPA) د افغان پولیسو څواک روزنې او سواد زده کول مالتړ(PCP) د افغانستان په شمال کې د مهاجرينو یوځای کول(IDP)
georg.fritzenwenger@giz.de